يــونامــا
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دمرستندويه پلاوي دفتر
دستراتيژيکو اړيکو دفتر
مطبوعاتی اعلاميه
www.unamanews.org/pashto

**افغانستان : د ملګرو ملتونو راپور ښيي چې په افغانستان کې د توقيف په وخت کې د شکنجې پر وړاندې يو څه پرمختګ شوی او لا ډيرو نورو موثرو اقداماتو غوښتنه يې کړې**

**کابل ، ژنو، د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ ۲۴مه نيټه:** نن ملګرو ملتونو يو راپورنشر کړ چې د حکومت د توقيف په ځايونو کې د جګړې اړوند توقيفيانو سره د شکنجې او ناوړه چلند په هکله وو او په راپور کې راغلي چې په دې اړوند يو څه پرمختګ شوی دی او د نوی حکومت د دې ژمنې هرکلی کوي چې غواړي هغه هڅې ګړندی کړي چې د شکنجې او ناوړه چلند کړنې په بشپړ ډول د توقيف په ځايونو کې له منځه وړي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی او د يوناما د پلاوي مشر ښاغلي نيکولاس هيسم وويل:" د افغانستان حکومت هڅې چې غواړي د شکنجې او ناوړه چلند مخنيوي وکړي، په تيرو دوو کلنو کې يې يو څه پر مختګ کړی دی. البته ډير نور څه هم بايد وشي او زه د دې هرکلی کوم چې نوي حکومت د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو ته فوري توجه کړې ده. "

ښاغلي نيکولاس هيسم وويل:" په تيره بيا يوناما د حکومت د دې ژمنې هرکلی کوي چې د شکنجې له منځه وړلو له پاره به يو نوی ملي پلان تطبيق کړي. موږ يې ملاتړ کوو او لکه څرنګه چې له موږ څخه غوښتل شوي، موږ د افغانستان د حکومت په توقيف ځايونو کې د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو له پاره د دې ملي پلان چې جامع طريقه ده، د حکومت سره مرسته کولای شوو."

د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو له پاره د حکومت د تجويز شوي ملي پلان کې دا موارد شامل دي: د قوانينو په جوړولو کې اصلاحات، د شکنجې ضد نړيوال کنوانسيون د اختياري مسودې (پروتوکول) تصويبول، د شکنجې د متضررينو درملنه او د جبران ادا کول او دوي ته د زده کړې او د ظرفيت د لوړتيا لپاره پروګرامونه جوړول، په عام کلتور کې د شکنجې بې باوري کول، د شکنجې د مخنيوي هلې ځلې او د تجويز شوي ملي پلان د تطبيق په دوامداره توګه څارل.

د ملګرو ملتونو راپور چې نن د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (يوناما) او د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرۍ دفتر لخوا په ګډه خپور شو، د افغانستان توقيف خونو کې د جګړې اړوند توقيفيانو سره د چلند په هکله دريم راپور دی. د دې راپور موندنې د فبرورۍ ۲۰۱۳ کال څخه د ديسمبر ۲۰۱۴ کال پورې د ۷۹۰ د جګړې اړوند توقيفيانو او افغان امنيتي، پوليسو، عدلي او قضايي چارواکو سره مرکې او د مستنداتو، طبي او نورو مالوماتو د څيړنې پر بنسټ تيار شوی دی.

د دوو پخوانيو راپورونو په پرتله، د ا راپور جوتوي چې د هغو توقيفيانو په فيصدي کې چې شکنجه شوي او يا ناوړه چلند ورسره شوی، ۱۴ سلنه کمی راغلی دی او د ټولو توقيفيانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې دي، يو پر درې توقيفيانو سره ناوړه چلند شوی او يا شکنجه شوي دي.

راپور د ملي امنيت رياست، ملي پوليسو، سيمه ييزو پوليسو او افغان ملي اردو لخوا په ګنوتوقيف ځايونو کې د نيولو او د تحقيق په وختونو کې د توقيفيانو سره د ناوړه چلند او شکنجې ته اشاره کړې ده. توقيفيان په تيره بيا د طالبانو شکمن غړي او د حکومت ضد نور ډلې او هغه ځانګړي کسان چې د جګړې اړوند جرمونو شک پر

شوی دی، په ځانګړي ډول د اعتراف او مالوماتو اخیستلو په خاطر سخت دردول شوي او ځورول شوي دي. توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند شپاړس ډولونه بیان کړل چې په هغو کې په پلاستیکي پایپونو، کیبلونواو لښتو سخت وهل، ځړول، برقي شاک اوتقریبا زندۍ کول، شامل وو.

د شکنجې او ناوړه پیښو کې دا کمی د نوي حکومت هغو کړنلارو او لاربښودنو لامله راغلی چې د شکنجې ممانعت کوي، د بهرنیو ادارو لخوا د توقیف ځایونو په لیدلو کې زیاتوالی، د تحقیق په متبادلو تخنیکونو باندې متمرکز ټرینینګونو او د فبروري ۲۰۱۳ کال کې ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان د صادرلو وروسته د نورو اجرااتو له امله راغلی دی.
خو سره له دې، د یوناما راپور موندنې په ګوته کوي چې څه که هم د څار په موده کې له چارواکو سره د شکنجې تصدیق شوې ګڼې پیښې مطرح شوې دي، خو یوازې د یوې قضیې د څارنوالی ته د معرفي کولو پرته، په دوامداره توګه د حساب ورکونې نشتوالی لیدل شوی دی. د یوناما راپور په ګوته کوي چې د ملی امنیت عمومي ریاست او د کورنیو چارو وزارت داخلي د حساب ورکونې او څار میکانیزمونه په شمول د بشري حقونو او د شکایتونو او تفشیش ریاستونه کافي نه وو ځکه چې دوي په پوره ډول خپلواکي، صلاحیت، روڼتیا او ظرفیت نه درلود.
د یوناما د بشر د حقوقو د څانګې مسولې جورجټ ګینون وویل: " دا د ډیرې اندیښنې وړ ده چې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلنو په موده کې د حکومت د هڅو سره سره چې شکنجه له منځه یوسي، د یوناما موندنې ښیي چې د جګړې اړوند توقیفیان شکنجه شوي. د شکنجې کارولو له پاره دوامداره معافیت د شکنجې ته د دوام ورکولو لامل کیدلی شي. پوښتنې او ګیرونې کول په تیره بیا له هغو څخه چې د شکنجې مرتکبین دي، هغه چې شکنجه ورکوي او یا یې د شکنجې امر کوي او هغه چې سترګې ترې پټوي، د شکنجې ختمولو له پاره په لوړه کچه د سیاسي ژمنې یوه مهمه لاره ده."
شکنجه د افغانستان اساسي قانون او ملي او نړیوالو قوانینو له مخې منع او جرم دی.

د ۷۱ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې او د افغان توقیف خونو ته تر انتقال وروسته په شمول د هغو توقیف ځایونو چې ایساف یې ددې تصدیق کړی چې شکنجه په کې نه کارول کیږي، ۲۰ یې د شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوی وو. نړیوال قانون په افغانستان کې نړیوالوځواکونو څخه غوښتنه کوي چې د هغه عملیاتو پرمهال چې دوي ورسره وي د توقیفیانو سره د چلند نه نظارت وکړي او توقیفیان هغه توقیف ځایونو ته انتقال نه کړي په کومو کې چې د شکنجې ویره وي او هم په خپلو ټریننګونو، مشورو او د مرستو په فعالیتونو کې د شکنجې او د ناوړه چلند د مخنیوي په هکله کوښښونه شامل کړي.
راپور په ځینو سیمو کې د متبادلو اوغیر رسمي توقیف ځایونو د شتون په هکله چې د افغان مقاماتو لخوا یې اداره کیږي، ګڼ کره راپورونو ته هم اشاره کوي. یوناما د حکومت څخه غوښتنه کوي چې دا ډول غیر رسمي ځایونه دې مالوم کړ ي او بند دې کړي.

ډیر هغه افغان امنیتي او د پولیسو مامورین او چارواکي چې مرکې او مشورې ورسره شوې، داسې ښکاریدله چې دوي دا نه منله چې شکنجه منع ده او شکنجه یې د ارزښتناکو استخباراتي مالوماتولاس ته راوړلو له پاره یوه سمه طریقه ګڼله. راپور د دې پراخې کړنې مشاهده وکړه چې قضایي مقامات د تورن اعتراف د تعقیب له پاره اساس بولي.

د بشري حقونو له پاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر ښاغلي زید راد الحسین وویل: " شکنجه یو سخت جرم دی او شکنجه هیڅ جواز نه لري. موږ ډیرې داسې بیلګې لیدلې دي چې وښیي چې شکنجه څرنګه ملي امنیت ته زیان رسوي او ګټې په ځای تاوان کوي." نوموړي په دې تاکید وکړ چې د افغانستان اساسي قانون او د جزایي اجرااتو قانون کې د قانوني اجرااتو ضمانت شتون لري چې یو توقیفي له شکنجې او ناوړه چلند څخه وساتي او د شکنجې په زور اخیستل شوی اعتراف منع وګڼي.

**د راپور په هلکه نور اضافي مالومات**

- راپور د ۷۹۰ جګړې اړوند توقیفیانو سره د مرکو په بنسټ بناډې ولاړ دی چې د ملي امنیت ریاست، د افغان ملي پولیسو، د افغان سیمه ییزو پولیسو او افغان ملي اردو لخوا نیول شوي وو. د فبرورۍ ۲۰۱۳ کال څخه تر دیسمبر ۲۰۱۴ کال پورې یوناما په ۲۸ ولایتونو کې د ۱۲۸ توقیف ځایونو څخه لیدنه وکړه او ټولو لیدنو شمیر یې ۲۲۱ ته رسیږي.
- یوناما افغان امنیتي، پولیسو او قضایي اوعدلي چارواکو سره هم په کراتو مرکې کړې دي.
- یوناما ژوره څیړنه ترسره کړې او هر ډول مالومات چې له ډیرو سرچینو او همکارانو څخه یې لاس ته راوړلي، مستندې ویډیوګاني، طبي او نور مالومات یې په غور سره څیړلي، کره کړي او کتلي دي.
- یوناما په ځانګړي توګه د ولسمشر ۱۲۹ ګڼه فرمان (چې په فبرورۍ ۲۰۱۳ کال کې صادر شوي و) تطبیق یې څارلی دی او په دې فرمان کې د ملي امنیت عمومي ریاست، د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو، لویې څارنوالی، سترې محکمې، د عدلیې وزات او صحت عامې وزارت ته امر شوی چې ځانګړې اقدامات وکړي چې د افغانستان په توقیف خونو کې شکنجه، ناوړه چلند او په خپل سري توقیف له منځه یوسي
- د یوناما څیړنه ښیي چې د ۷۹۰ د جګړې اړوند توقیفیانو له جملې نه چې یوناما ورسره مرکې کړې وې، ۲۷۸ یې (چې ۳۵ سلنه کیږي) د نیولو په وخت کې او یا هم د ملي امنیت ریاست، د افغان ملي پولیسو، د افغان سیمه ییزو پولیسو او افغان ملي اردو د توقیف په ځایونو کې له شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوي دي. له اتلسو کلنو څخه د کم عمرو ۱۰۵ ماشومانو د جملې څخه ۴۴ یې (۴۲ سلنه) شکنجه شوي او یا ناوړه چلند ورسره شوی دی.
- د یوناما څیړنه ښیي چې د ۶۱۱ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې، ۱۶۱ یې (چې ۲۶ سلنه کیږي) چې د ملي امنیت په ۳۷ توقیف ځایونو کې توقیف شوي وو، له شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوي وو. او د ۳۰۲ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې او د افغان ملي او افغان سرحدي پولیسو لخوا توقیف شوي وو، ۹۳ یې (۳۱ سلنه) یې له شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوي وو. د ۴۲ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې او د افغان سیمه ییزو پولیسو نیولي وو، ۲۲ یې (۵۰ سلنه) یې له شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوي وو او د ۶۰ توقیفیانو له جملې نه چې مرکې ورسره شوې وې او د کابل نه د باندې د افغان ملي اردو په ګڼو توقیف ځایونو کې نیول شوي وو، ۲۰ یې (۳۳ سلنه) له شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوي وو.
- یوناما له ۷۱ توقیفیانو سره مرکې کړې او دوي ویلي دي چې نړیوال نظامي ځواکونه او یا نورې بهرنۍ امنیتي ادارې د دوي په نیولو، توقیفولو او افغان امنیتي ادارو ته انتقال کې شاملې وې. د دې ۷۱ له جملې نه ۲۰ یې شکنجې او ناوړه چلند سره مخامخ شوي وو چې د ایساف لخوا د افغان توقیف هغه ځایونو ته انتقال شوي وو چې د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلنو په موده کې ایساف دا ځایونه تصدیق کړي وو چې شکنجه نه کاروي او یا یې هغه ځایونو ته چې د تصدیق ددې پروګرام کې برخه نه وه. یوناما د دې جاج اخیستی چې د ایساف د تایید پروګرام د توقیفیانو افغاني توقیف خونو ته د سپارلو په بهیر کې په ځانګړي ډول هغه ځایونو کې چیرته چې د شکنجې ویره موجوده وه، د ډیرو نړیوالو ځواکونو لخوا د توقیفیانو د لیږلو د مخنیوي د کوښښونو سره مرسته کړې ده. ایساف په افغاني توقیف خونو کې د شکنجې او سپکاوي د اتهاماتو په اړه ادعاګانې د ملي امنیت عمومي ریاست، د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي اردو سره د پلټنو په موخه شریکې کړې دي.
- د شکنجې او ناوړه چلند پیښې یوازې د توقیفیانو په هغو بیلګو کې چې یوناما ورسره مرکې کړې وې او د توقیف په هغه ځایونو کې یوناما د ۲۳ میاشتو د څار په موده کې په ځانګړو ورځو کې ورنه څارنه کړې وه، لیدل شوې دي. د یوناما راپور د توقیف هغه ځایونه چې یوناما نه دي لیدلي او یا یوناما ته د ورتګ اجازه نه ده ورکړی شوې، د هغوي په هکله د شکنجې او ناوړه چلند د پیښو شتوالي او شکنجې او ناوړه چلند کارولو په هکله یوناما څه نه شي ویلی.

- د یوناما راپور کې د افغانستان حکومت او د هغه نړیوالو همکارانو ته ۲۲ سپارښتنې شوې او د حکومت څخه غوښتل شوي چې د یوناما د پخواني دوو راپورونو پاتې سپارښتنې پلي کړي. یوناما حکومت ته ددې خپل پیشنهاد یو وار بیا یادونه کوي چې د یو مستقل نظارتي او د حساب ورکونې میکانیزم چې شکنجې په اړه د مخنیوی د ملي میکانیزم په هغه ډول جوړ کړي لکه څرنګه چې د شکنجې ضد کنوانسیون په اختیاري مسودې (پروتوکول) کې وړاندې شوی دی.

**د یوناما ۲۰۱۵ کال راپور په هکله د افغانستان د حکومت ځواب**

- یوناما دا راپور د افغانستان د حکومت سره شریک کړ. افغانستان حکومت یو تفصیلي لیکلي ځواب د ملي امنیت شورا په مټ تیار کړ او دا ځواب د یوناما په دې راپور کې ضمیمه شوی دی.
- حکومت په خپل ځواب کې کاږي چې دا د افغانستان د حکومت رسمي کړنلاره نه ده چې په توقیف ځایونو کې له توقیفیانو څخه د اعتراف او مالوماتو اخیستلو په خاطر شکنجه وکاروي او توقیفیانو سره ناوړه چلند وکړي. حکومت په ځواب کې زیاتوي چې د یوناما په راپور کې د ځینو پیښو راپور صحیح نه دی البته ځیني انفرادي سرغړوني کیدای شي چې د قضایي او امنیتي ارګانونو د ځینو مامورینو او کارمندانو لخوا شوي وي. په ځواب کې راغلي چې حکومت دا مني چې په دې اړوند ځیني ستونزې شته او د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړلو له پاره ژمن دی. په دې کې د شکنجې له منځه وړلو له پاره د یو ملي پلان جوړول هم شامل دي.

***



**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
For more information, please contact: Spokesperson-UNAMA@un.org
UNANMA online: http://unama.unmissions.org • Facebook • Twitter • Flickr • YouTube